PROPERTY OF ACKU

DAILY
اراده

١٠٥١

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

AMRC
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER

سال تاسیس ١٣٧٩ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ١٠٥١ مه گڼه، پر له پسې ٢١٢٦ گڼه د ١٣٩٠ ل.-د غبرگولي ٨مه – دیکشنبې ورځ، د ١۴٣٢ هـق جمادي الثاني ٢٦ مه د ٢٠١١ د مې ٢٩ مه

امریکا د ملا محمد عمر په گډون د پنځو تنو لست پاکستان ته سپارلی

امریکا يي چارواکو له پاکستان نه غوښتنه کړې ده، چې د طالبانو د مشر ملامحمدعمر پر خلاف دې د عملیاتو لپاره استخباراتي معلومات ورسره شریک کړي. امریکا پاکستان ته په دې اړه یو بشپړ لیست سپارلی دی، چې د پنځو کسانو نومونه پکې اخیستل شوي دي. له ملامحمد عمر سره سره د القاعده شبکې د مشر اسامه بن لادن د مرستیال ایمن الظواهري، د طالبانو د حقاني ډلې د پوځي مشر سراج الدین حقاني، د القاعده یوسمه ییز مشر الیاس کشمیري او په لیبیا کې دالقاعده **٣مخ**

رویداد دیروز تخار، تسلسل قتل زنجیره یی مقام های بلندپایهٔ دولتی

www.alriyadh.com

جنرال داوود قوماندان ٣٠٣ پامیر با چند تن از مقام های بلندپایهٔ دولتی دیروز طی حملهٔ انتحاری که در ساختمان ولایت تخار رخ داد، کشته شدند.

گفته می شود که در این رویداد، بر علاوهٔ جنرال داوود و شماری از مقام های دولتی دیگر که هنوز معلومات دقیق در مورد آنان ارایه نگردیده، شماری از سربازان افغان و خارجی نیز جان باخته و یا مجروح شده اند.

باید گفت، جنرال داوود در گذشته یکی از قوماندانان برجستهٔ جهادی و در اوایل دولت کرزی به عنوان معین مبارزه بر علیه مواد مخدر وزارت امور داخله ایفای وظیفه می کرد.

نامبرده در این اواخر، به صفت قوماندان ٣٠٣ پامیر که مبارزه با نا امنی های زون شمال کشور از وظایف اساسی آن بود، منصوب شد.

به هر حال، آنچه حادثهٔ دیروز تخار پیش چشمان ما قرار می دهد، در گام اول، تغییر تکتیک مخالفان را به نمایش می گذارد. در گذشته ها، زور حملات انتحاری و بمی طالبان در مناطقی محسوس بود که به عنوان پایگاه عنعنه یی طالبان پنداشته می شد و یا اینکه قوت و نیروی جنگی طالبان در آن مناطق از قبل مشخص بوده و حساب شده تلقی می گردید؛ به گونهٔ مثال مناطق جنوب کشور و برخی از ولایت های شمال از جمله کندز و بغلان. اما در این اواخر، مخالفان با تغییر تکتیک آنها توانسته اند، در مناطقی نفوذ نمایند که در گذشته ها از امنیت نسبی برخوردار و فکر نمی **ص٣**

قزاقستان و طرح اعزام نیرو به افغانستان

با وجود هشدارهای مکرر طالبان به قزاقستان مبنی به عدم فرستادن نیروهای نظامی به افغانستان، قزاقستان دیروز باردیگر تاکید کرد، که چهار عسکر اداری به افغانستان می فرستد. عسکر عبدالرحمان اف سخنگوی وزارت امور خارجهٔ قزاقستان اعلام کرد، این کشور و نیروهای خارجی مستقر در افغانستان تنها با اعزام چهار کارمند برای فعالیت در دفترهای مرکزی سازمان ناتو در کابل با یکدیگر توافق کرده اند.

گفته می شود، پارلمان قزاقستان با استقرار این نیروها در افغانستان موافقت کرده است، اما تحقق این موضوع نیاز به موافقت مجلس سنا و ناتو دارد.

این درحالی است که طالبان هفتهٔ گذشته در بیانیه یی خطاب به مسوولان قزاقستان نوشته بود، دولت این کشور با این تصمیم خواسته های مردم و منافع منطقه یی خود را نادیده گرفته است.

AFP

در میان جمهوری های آسیای مرکزی، قزاقستان در مقایسه با دیگر جمهوری های منطقه، تنها کشوری بوده است که در برابر تحریک و تحرک گروه های افراط گرا و طالبان در حاشیهٔ امنیت قرار داشت. این درحالی است که از پیش از نشست ١٨ ماه می (٢٨ ثور) پارلمان قزاقستان که در آن پیشنهاد فرستادن نیرو و مشارکت در ماموریت نیروهای خارجی در افغانستان به تصویب رسیده بود، جامعهٔ این کشور شاهد برخی ناآرامی ها از جمله انفجار روز ١٧ می(٢٧ ثور) در مقر نیروهای امنیتی در شهر آق تپه بود. اخیرا" نیز سخنگوی کمیتهٔ امنیت ملی قزاقستان از وقوع انفجاری مهیب در اطراف ساختمان موقت این کمیته در آستانه خبر داده بود. رسانه‌های محلی از احتمال انتحاری بودن این **ص٣**

روسیه و امریکا قرارداد فروش ۲۱ هلیکوپتر به افغانستان را امضاء کردند

سازمان نظارت بر فروش های تسلیحاتی وزارت دفاع روسیه اعلام کرد، روسیه قراردادی با اردوی امریکا برای تحویل ٢١ فروند هلیکوپتر نظامی می –١٧ به اردوی افغانستان، امضاء کرد.

به گزارش خبرگزاری فرانسه از مسکو، این قرارداد، شامل تحویل هلیکوپترهای جدید، ارایهٔ خدمات زمینی و پشتیبانی سخت افزاری و تخنیکی است. رسانه های روسیه ارزش این قرارداد را ٣٦٧ میلیون و ٥٠٠ هزار دالر ذکر کردند. ریانووستی به نقل از سرویس فدرال برای همکاری نظامی –فنی روسیه افزود: هلیکوپترهای روسیه برای استفاده **ص٣**

در رویدادهای مختلف خشونت؛

شش سرباز دیگر خارجی کشته شدند

شش سرباز دیگر خارجی در رویدادهای دیروز کشور در مناطق مختلف کشته شدند. به گزارش ایرنا، سه سرباز کشورهای همراه با یک سرباز گرجستانی، جمعه شب در حوادث جداگانه در افغانستان جان های شان را از دست دادند. دفتر مطبوعاتی نیروهای خارجی کمک به امنیت افغانستان (ISAF) دیروز در بیانیه یی بدون اشاره به محل دقیق رویداد، هویت و ملیت سربازان جان باخته آورده است: دو سرباز این نیروها در نتیجهٔ انفجار ماین کنار جاده یی کشته شدند و نظامی سوم نیز، در درگیری با مخالفان مسلح جان خود را از دست داده است. نیروهای گرجستانی مستقر در افغانستان نیز، از کشته شدن یک سرباز این نیروها در ولایت قندهار خبر داده اند.

از سوی دیگر، وزارت دفاع بریتانیا دیروز با انتشار بیانیه یی اعلام کرد: دو سرباز بریتانیایی که جمعی کندک ٤٢ کماندوها بودند، روز گذشته در ولسوالی نادعلی هلمند کشته شدند.

این دو سرباز هنگام گزمه در منطقهٔ موسوم به 'لوی منده' با بم کنار **ص٣**

وزیر دفاع آلمان:

نیروهای ما بعد از ۲۰۱۴ نیز در افغانستان می‌مانند

وزیر دفاع آلمان گفت: گرچه برنامهٔ خروج از افغانستان تا سال ٢٠١۴ اعلام شده، اما نیروهای آلمانی بعد از ٢٠١۴ نیز، در این کشور حضور خواهند داشت.

توماس دومزییر، وزیر دفاع آلمان گفت که دولت آلمان گرچه برنامهٔ خروج نیروهای خود از افغانستان را تا سال ٢٠١۴ اعلام کرده، اما بعد از آن نیز، به شکل نیروهای کمکی و آموزشی در افغانستان حضور خواهد داشت.

وزیر دفاع آلمان افزود: پایبند بودن به مسوولیت‌های بین المللی در مناطق بحران، وظیفهٔ اصلی وزارت دفاع است. در همین راستا، تجهیز دوباره سربازان با ساختارهای ضروری امر محرزی است.

وزیر دفاع آلمان هم‌چنین در گفتگو با سایت انترنتی فرانکفورتر آلگماینهٔ آلمان، از امکان حضور آلمان در ماموریت‌های کشورهایی چون پاکستان، یمن، سومالیا و یا سودان سخن گفت.

دومزییر گفت: تجربهٔ شکست ما در افغانستان دلیلی نیست که ما از حضور در دیگر **ص٣**

په افغانستان کې د امریکا دایمي پوځي اډې، پوښتنې او ارزونې

٢

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

دیگر صبر مردم لبریز شده است!

تداوم کشتار غیرنظامیان افغان به دست نیروهای خارجی مستقر در کشور، به عنوان یک معضل امنیتی خطرناک و حساسیت برانگیز شمرده می شود که همواره اعتراضات گسترده یی را در پی داشته است. تلفات غیرنظامیان در نتیجهٔ عملیات های نظامی نیروهای خارجی اکنون به مشکل روزمرهٔ مردم ما تبدیل شده است.

دیروز یکتن از نماینده گان مردم نورستان در ولسی جرگه ابراز داشت، طی چهار روز گذشته نیروهای ناتو بیش از ۳۰۰ تن را که اکثر آنان غیرنظامیان بودند، در این ولایت کشته اند.

این در حالی است که چندی پیش نیز، رویدادهای مشابهی از سوی نیروهای خارجی در ولایت ننگرهار به وقوع پیوسته بود و شماری از غیرنظامیان در عملیات های شبانه خارجی ها قربانی شدند.

کشته شدن یک نوجوان ۱۲ ساله و همچنین قربانی شدن یک مرد به همراه دختر خوردسالش و ... از رویدادهایی است که طی چند روز اخیر از سوی نیروهای خارجی شاهد ان بوده ایم.

۲ ماه پیش نیز ۹ کودک افغان در ولایت کنرتوسط حملات هوایی نیروهای ناتو قربانی شدند.

افزون براین، رویداد اخیر ولایت تخار که منجر به تظاهرات خشمگین و گستردهٔ مردمی گردید و طی آن بیش از ۱۰۰ کشته و زخمی شدند نیز، در این ردیف قرار می گیرد.

به هر صورت، کشتار غیرنظامیان توسط خارجی ها طی ۱۰ سال گذشته آن قدر انجام گرفته که به موضوعی عادی تبدیل شده، اما به هیچ عنوان نیز، توسط مجامع بین المللی به عنوان مصداق های نقض حقوق بشر توصیف نشده است.

این کشتارها و تداوم آن مخصوصاً در ماه های اخیر، باعث شد، تا رییس جمهور کرزی، ضمن انتقادها و محکومیت های مکرر، کشورهای غربی ذی دخل در قضایای افغانستان و نیروهای خارجی مستقر در کشور را تهدید به عکس العمل مردمی از طریق بزرگان قبایل و نماینده گان ملت افغانستان کند. اما با وجود این هشدارها، باز هم نظامیان خارجی، به معضل توجهی نداشته و همه روزه فجایع دیگری را رقم می زنند. تکرار کشتار زنان و کودکان و افراد غیر نظامی افغان توسط نظامیان خارجی مستقر در افغانستان یکی از مسائل و چالش ها فراروی دولت آقای حامد کرزی به شمار می رود و برخی از کارشناسان و صاحبنظران افغان معتقدند که باید مقامات دولتی و پارلمانی افغانستان در برابر حفظ جان اتباع این کشور، جدیت و جانفشانی بیشتری داشته باشند و با در پیش گرفتن و روی دست گرفتن سازوکارهای مناسب و قوی جلو اقدامات غیر قانونی نیروهای خارجی و کشتار غیرنظامیان بدست آنان را بگیرند.

به عنوان سخن آخر به صورت یک پیام کوتاه به دولتمردان، باید ابراز داشت، دیگر بس کنید...صبر مردم افغانستان از دادن این همه قربانی لبریز شده است. پس از این گونه حملات، نیروهای خارجی ابتدا به گردن نمی گیرند، اما بعد به عذرخواهی خالی اکتفا می کنند، از سوی دیگر، هم رییس جمهور به محکوم کردن حملات می پردازد و همه چیز تمام می شود! آیا با این عذرخواهی ها و محکومیت ها فرزندان خانواده های داغدار باز می گردد؟!

تمام مردم افغانستان از مسوولان حکومتی خواهان اند، از حاکمیت ملی خود استفاده و از این کشتار بی رحمانه جلوگیری کنند و اگر توانایی این کار را ندارند، البته این برای شان بیش از هر چه افتخار آمیز و بهتر خواهد بود، تا استعفای شان را به پیشگاه ملت افغانستان تقدیم نمایند.

آیا اگر تنها یکی از این هزاران رویدادی که در افغانستان توسط نیروهای خارجی رخ می دهد، در کشورهای خود این نظامیان، واقع می شد، ساکت می نشستند؟!!!

په افغانستان کې د امریکا دایمي پوځي اډې، پوښتنې او ارزونې

قاضي محمد حسن حقيار

دوهمه برخه:



د نظامي هډو تیوري د څه لپاره؟

امریکا په ګڼو اروپايي، افریقايي او د لویدیځې آسیا په هېوادونو کې نظامي هډې لري، خو په مرکزي، جنوبي او ختیځه آسیاکې لا له دې هډو بې برخې وه او دا هغه سیمې دي، چې د امریکا اصلي سیاسي، اقتصادي، مذهبي، نظامي حریفان او رقیبان پکې اوسېږي او له لاس نه خوړلو قیمتي طبعي زېرمو او کانونو ډکې دي، دا سیمه د روس، هند او چین په څېر د اټومي او اقتصادي ځواک، د ایران او پاکستان په څېر د اټومي او مذهبي راډیکالۍ، د افغانستان په څېر د جهادي او اسلامي ویښتابه او د منځنۍ اسیا د هېوادونو په څېر د لاس نه خوړلو طبعي زېرمو کور بنه سیمه ده، ((آنکه خوبان همه دارند ما تنها داریم))

یا په بله وینا، دا سیمه د امریکا د سیاسي، مذهبي او نظامي اندېښنو او د طبعي بډایه سرچینو په لرلو د امریکا د اقتصادي جنون او عشق د اشباع څورلیز (محور) دی نو که امریکا د دې سیمې په تسخیر وتوانېږي نو بویه، چې ټولې سیاسي، مذهبي، نظامي او اقتصادي اندېښنې یې پورته او د نړۍ د پاچایۍ تاج یې پر سر شو، امریکا هېڅکله هم اسلامي اټومي هېواد پاکستان، په تیوریک او د پان شیعیزم په قبض اخته ایران او د نړۍ ستر اقتصادي ځواک چین چې همدا اوس یې هم امریکا زرګونه میلیارده ډالره پوروړې ده، نه شي زغملی، نه اټومي هند، چې په عنعنوي توګه دا نګرېزانو سیاسي متحد او تر ډېره د دوی امپراطوري وه، نه د دوی اصلي رقیب مسکو، چې په افغانستان کې یې د افغان مجاهدینو په لاس ټپي کړ، خو مړ یې نکړ د ټپي مسکو ټپونه رغېدلي او پر نړۍ د بیا واکمنۍ هڅې یې پیل کړي دي، او آن د مړ کانو په څېر یې د امریکا تر زنې لاندې وینزویلا ته هم سوری کړي دی. د پورتنیو فاکټونو له مخې، دا سیمه امریکا ته تر بلې هرې سیمې ډېره مهمه ده او دلته د دوی نظامي شتون د دوی لپاره سیاسي آب حیات دی.

امریکا غواړي، چې د بېلابېلو سیاسي، اقتصادي، نظامي، ټولنیزو او مذهبي موخو لپاره دلته په سیمه کې تلپاتې حضور ولري، دوی غوښتل، چې د یو بې وارثه، کمزوري او له سیاسي او امنیتي انارشۍ څخه د ډک هېواد په توګه افغانستان ونیسي، دلته یوازې تش په نوم د افغانانو، خو په حقیقت کې د دوی اداره وي او د دې موخې لپاره یې ډېرې هلې ځلې وکړې او ډېرې ځاني او اقتصادي قرباني یې ورکړې.

خو کله چې امریکا ته جوته شوه، چې د امپراطوریو د هدیرې ایلول او د افغانانو ښکېلول ورته ناشونې دي او ژر ده، چې د متوفي شوروي (یادش بخیر) په څېر د دوی د تدفین مراسم هم اعلان شي، نو په دې فکر کې شو، چې څنګه خپل سر هم وژغوري او په سیمه کې خپل شتون او ګټې هم خوندي وساتي، هماغه وو چې سي. آی. اې د خپل یوه سناتور لینسي ګراهام له لارې د افغانانو او نړیوالو د استمزاج لپاره په افغانستان کې د اوږدمهاله نظامي هډو جوړول وغوښتل، کله چې په دې وروستیو کې دا خبر ډېره توده شوه، نو د امریکایي چارواکو له خوا له استخباراتي تعامل سره سم په پیل کې دا د هغه شخصي نظر وبلل شو، خو ورسره سمدستي یې د پلایوو او ویډیو کنفرانسونو له لارې له حامد کرزي وغوښتل، چې د دوی دې وړاندیز ته د عملي جامو وراغوستلو لپاره لارې چارې برابرې کړي.

امریکایان انګېري، چې دا د دوی موخو ته د رسېدو لپاره آسانه او له هره پلوه اقتصادي لار ده، هغوی په دې اړه د ګاونډیو اندېښنې هم محسوسې کړې دي او د هغوی د قناعت لپاره یې هلته هم پلاوي ولېږل.

امریکایان غواړي، دلته د تل لپاره پاتې هم شي، په نړۍ د خپلې پاچاهۍ خوب ته ښه تعبیر هم ومومي، سیمه هم وڅاري او پر وړاندې یې مخالفتونه هم نه وي، امریکا له افغانستان څخه په سیمه کې د خپل ژاندارم د قوماندې د مرکز په توګه کار اخلي.

لکه وړاندې مو چې وویل امریکا دلته راتللو ته پلمې لټولې، دې سیمې ته وسلوال راتلل د امریکا استراتیژیکه اړتیا وه، هغه په عربي نړۍ کې د اسراییلو په څېر هر چېرې ځانته ژاندارم لري، خو په ختیځه نړۍ کې یې چې تر بل هر ځای پکې د امریکا د سترګو ازغي او د امریکا ګټې ډېرې دي، داسې کوم ژاندارم نه درلود، نو د دې ژاندرام مرکزیت ته افغانستان دوی ته اسانه او له نړیوالې ملامتیې څخه خلاصه ټاکنه وه.

په افغانستان کې د امریکا د نظامي هډو په اړه په برخلیک اوه نیزه کې د ق – الف سباوون یوه لیکنه خپره شوې، چې په لږ تصرف یې دلته را نقلوو:

((کله نه چې د امریکا د پوځي اډو خبره راپورته شوې، نو د ګاونډیانو د اندېښنو خبره هم ورسره د یوه خنډ او ځنډ په توګه راغبرګه شوې ده او دلیل دا دی، چې د امریکا دایمي اډې د ګاونډیانو ملي ګټې ګواښي، دغه خبره کله هم ونه شوه، چې ایا افغانستان هم ملي ګټې لري او که نه؟

که د افغانستان له امله د امریکایانو حضور ګاونډیانو ته احتمالي ګواښ پېښوي او جدي مخالفتونه راز پېروي برعکس د افغانستان امنیت د ګاونډیانو له لاسه عملاً درهم برهم دی، یو یې وسلې رالېږي او بل یې وسله وال مخالفینو ته پټنځایونه چمتو کوي، خو نه غواړي، چې په افغانستان کې امنیت ډاډمن شي....

امریکا به د افغانستان، پاکستان او ایران د مخالفتونو پر بنسټ له اډو لاس واخلي؟

که اډې جوړوي د افغانستان پکې کومې ګټې خوندي دي؟

امریکا ولې دایمي اډې غواړي؟

ایا دا د امریکا غوښتنه ده او که د پنټاګون تصمیم؟

او داسې نورې بلا ډېرې پوښتنې راز پېدلې او بېلابېلې انګېرنې یې په ځواب کې رامنځ ته شوې دي، چې یوه یې هم هغه څه ته نه ده ورته، چې په خپله د سپینې ماڼۍ او د پنټاګون د سر سړي یې وایي، د متحده ایالاتو نو پخواني ولسمشر بېل کلنټن پر ۱۹۹۴ کال د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلۍ ته په وینا کې داسې ویلي وو، چې (که چېرې زموږ ملي امنیت له ګواښ سره مخامخ شي، نو کولای شو، چې له نورو سره په ګډه عمل تر سره کړو او که اړتیا وه، نو آن په یوازې توګه به هم دا کار ترسره کړو، موږ به له ډېموکراسۍ څخه هم کار واخلو خو که اړ شو له زور او زیاتي څخه هم).....

بل لور ته سیمې ته د امریکا د راتګ لامل څه دی، ایا له افغانستان سره مرسته او که نه تر کاسې لاندې یې کومه نیم کاسه شتون لري، په دې اړه د امریکا په زړه کې پټ ارمان د امریکا د پخواني ولسمشر بُوش مرستیال دیک چیني په ژبه داسې زمزمه شو: (واشنګټن به هله بریالیتوب ته ورشي، چې د روسیې د نفتو زېرمې تر خپلې ولکې لاندې راولي، د روسانو د جمهوري اتحاد له ړنګېدا وروسته په ۱۹۹۱ کال د **۳مخ**

ACKU

نیروهای ما بعد از ۲۰۱۴ نیز ...

عرصه‌ها خودداری کنیم.

دومزییر در ارتباط با اینکه نقش حضور آلمان‌ها در ماموریت‌های خارجی چیست و اینکه آنها حافظ منافع کشور ما هستند یا نه، گفت: در وهلهٔ اول مسأله محرز این است که نیروهای امنیتی برای تحقق منافع ملی ما وارد عمل می‌شوند. دفاع از کشور یکی از وظایف اولیهٔ ماست. علاوه بر این، ما به دلایل ملی نیز، در اتحاد ناتو هستیم. وزیر دفاع آلمان گفت: در برخی موارد نیز که بحث منافع ملی ما مطرح نیست، این سوال مطرح می‌شود که آیا ما برای ادای مسوولیت بین المللی خود در ماموریت ناتو حضور یافته‌ایم یا نه. وزیر دفاع آلمان در ادامه گفت: اینکه بحث حضور نیروهای آلمان در سودان، سومالیا، یمن و پاکستان مطرح شود، امری محتمل است. البته ضرورت حضور ما در این کشورها بسته به شرایط است، چرا که ما در سودان با ناظران سازمان ملل همکاری داشتیم، اما این فرایند باید به لحاظ سیاسی دنبال شود و وزارت دفاع به تنهایی نمی‌تواند، در این زمینه اقدام کند. دومزییر گفت: جنگ ادامهٔ سیاست با به کارگیری ابزار دیگر است و سربازان بخشی از سیاست خارجی ما و یک فرایند سیاسی هستند. این مقام آلمانی در ادامه گفت: فرایندهای سیاسی ما با حضور نیروهای نظامی همراه است. سیاست خارجی ما کلاسیک نیست و با سیاست مالی، انکشاف، تحریم و سیاست همسایگی ما نیز، همراه است. وی در ادامه افزود: نیروهای امنیتی حامی امنیت کشور هستند، اما نظارت بر حریم هوایی، حریم دریایی و برای مثال شرکت در ماموریت‌هایی چون لیبیا، بخشی از وظایف نیروهای امنیتی ما می‌باشد. این مقام آلمانی در ادامه گفت: کشتن و مردن بخشی از ماموریت نیروهای ما در خارج از کشور است.

شش سرباز دیگر خارجی کشته ...

جاده یی برخورد کردند.

هفتهٔ گذشته نیز، یک عسکر بریتانیایی بر اثر انفجار بم در منطقهٔ نهر سراج هلمند کشته شده بود. با کشته شدن این نظامیان، تعداد تلفات اردوی بریتانیا در افغانستان بر اساس آمارهای رسمی به ۳۶۸ تن افزایش یافت. به هر حال، این حوادث در حالی به وقوع می پیوندد که پریروز (جمعه) به شمول هشت سرباز امریکایی نه عسکر خارجی در جنوب کشور کشته شدند. تلفات نیروهای خارجی مستقر در افغانستان طی سال جاری میلادی به افزون بر ۲۱۰ تن می رسد. افزایش تلفات نیروهای خارجی در افغانستان درحالی است که ۱۰ سال از حضور این نیروها می گذرد و براساس گزارش سازمان ملل متحد ناامنی ها و کشتار غیرنظامیان افغان نیز، به وخیم ترین حالت خود از زمان سقوط طالبان رسیده است.

روسیه و امریکا قرارداد فروش ...

در نیروی هوایی افغانستان از ماه اکتوبر اعزام خواهد شد و تحویل آنها در طول سال آینده نیز، ادامه خواهد یافت. در پی به بن بست رسیدن مذاکرات مقام های سازمان ناتو با روسیه برای خرید این هلیکوپترها، واشنگتن تصمیم گرفت، خود بهای این هلیکوپترها را بپردازد. برخی از کشورهای عضو ناتو، مسکو را برای تحویل رایگان این هلیکوپترهای ترانسپورتی نظامی به افغانستان زیر فشار قرار داده بودند، زیرا توانایی پرداخت بهای آنها را نداشتند.

قزاقستان و طرح اعزام نیرو ...

انفجار خبر داده‌اند. اما تا کنون هیچ شخص یا گروهی مسوولیت این انفجارها را برعهده نگرفته است. ناظران سیاسی وقوع این انفجارها را بی ارتباط با هشدار جریان‌های افراط در پی تصمیم پارلمان قزاقستان در فرستادن نیروی نظامی به افغانستان نمی دانند. اکنون نیز، بعید نیست که با علنی شدن موضوع فرستادن نیروی قزاقی به افغانستان، بر شمار این ناامنی ها در این جمهوری آسیای مرکزی افزوده شود. به ویژه که این جمهوری پس از خروج نیروهای امریکایی از پایگاه خان آباد و طرح موضوع خروج نیروهای امریکایی از پایگاه مناس در قرغیزستان، قزاقستان اولین جمهوری منطقه بود که با واشنگتن برای استفادهٔ امریکا از پایگاه هوایی این کشور جهت ارسال آنچه تجهیزات غیر نظامی و البته مورد نیاز نیروهای خارجی مستقر در افغانستان اعلام شد، موافقت کرد. اکنون نیز، ظاهرا قزاقستان در فرستادن نیرو به افغانستان قصد دارد، خود را پیشتاز دیگرجمهورهای منطقه معرفی کند. موضوعی که بدون تردید، پیامدهای سیاسی و امنیتی متعددی را به جامعهٔ این کشور تحمیل خواهد کرد. به انفجارهای اخیر در آرامترین جمهوری آسیای مرکزی از همین زاویه باید نگریست.

امریکا د ملا محمد عمر په ګڼون د ...

شبکې د ځایي مشر عبدالرحمن نومونه شامل دي. یو امریکایي ټلویزون وایي، چې امریکایي او پاکستاني چارواکو په دې اړه خبرې کړې او دوې اوونۍ پر دغه لیست سره غږېدلي دي. امریکا له پاکستان نه تمه ښودلې ده، چې په یاده موضوع کې به پاکستان امریکا ته استخباراتي معلومات ورکړي، چې پر بنسټ به یې د یادو پنځو کسانو پر خلاف عملیات ترسره شي.

که څه هم په ایبټ اباد کې دالقاعده شبکې پر مشر اسامه بن لادن تر شویو عملیاتو وروسته پاکستاني سیاستوالو او د نظر خاوندانو په یوه خوله له امریکا نه داغوښتنه وکړه، چې نور به یې په هیواد کې خپل سري عملیات نه کوي، خو د امریکا ولسمشر بارک اوباما دا خبره په ډاګه کړې، چې د خپلو دښمنانو پر خلاف که بشپړ معلومات په لاس ورشي، بیا به هم ورته بریدونه او عملیات ترسره کوي.

په افغانستان کې د امریکا دایمي ...

د روسانو ټوټه ټوټه کېدل او د هغوی د نفتو په زېرمو ولکه د واشنګټن د ستراتیژۍ له مهمو او بنسټیزو اهدافو څخه دي او دا چې ولې، په دې اړه له روسیې سره مخامخ ګوتې نه ماتوي، نو دیک چیني یې په دلیل کې وایي، چې روسان اوس هم اټومي غښتونه لري. چین، هند، روسیه او ایران غواړي، چې په سیمه کې د سترو ځواکونو په توګه بروز وکړي، مګر په سیمه کې امریکایي پالیسیو یې د دغو ارادو پر وړاندې ډب اچولی دی، اما بیاهم خپله ځواکمنتیا پراخوي او وخت ناوخت د یونیم میزایل په ازمېښت سره د سیمې د ملکۍ دعوه کوي، چې دا کار ایران ډېر او پرله پسې کوي او وایي چې دا توغندی تلابیب ویشتلای شي، او دغه بل یې د عربي بحیرې د ویشتلو توان لري او دغه دواړه واټنونه د امریکا خوښ نه دي او د امریکا له دفاعي پلان سره په تضاد کې واقع دي، د ډیفنس پلاننګ ګایډنس په نامه یو لارښود کې د واشنګټن دریځ په دې ډول روښانه شوی دی (نور ملتونه او احتمالي ټلوالې شته دي، چې کېدای شي، په اوږدمهاله توګه خپل پوځي ځواک ته پراختیا ورکړي او د استراتیژیکو موخو په پلي کولو سره، په سیمه ییزو او نړیوال ځواک بدل شي، موږ باید خپل ستراتیژي دې ته متمرکزه کړو، چې د دا ډول احتمالي سیالانو له رامنځ ته کېدو څخه مخنیوی وکړو.) پورتنیو څرګندونو ته په کتو سره ایران او پاکستان په سیمه کې هغه هیوادونه دي، چې سیمې ته د امریکایانو راتګ ته یې د واشنګټن له منطق سره سم شرایط چمتو کړل، یو یې د اوږده واټن ویشتونکي راکټونه او توغندي هوا ته الوزوي او بل یې د سوداګرۍ د نړیوال مرکز د برید مسؤولیت اخستونکي ته په پوځي مرکز کې پناور کوي.

په عمومي توګه د امریکا د پوځي اډو جوړولو اهداف په ځانګړې توګه د نظامي مخ په ودې هیوادونو، د نفتو د زېرمو، د سیالو او دښمنو هیوادونو محاصره کول او نور دي، چې د امریکا پوځي ماهر جوزف ګرسون ورته په دې توګه اشاره کوي:

۱_د اوسني وضعیت تضمین:

پوځي اډې باید د ګواښ او وېرولو له لارې تر لاسه شوي او سنی وضعیت تضمین کړي، د بېلګې په توګه په سویلي کوریا کې د متحدو ایالتونو د پوځي اډو دنده ګواښول دي، په داسې حال کې چې په منځني ختیځ کې د دغه هېواد د پوځي اډو د جوړولو موخه وېرول او په دې توګه د سیمې د تېلو پر طبیعي زېرمو د کنټرول تضمین او د هغو د را اېستلو امتیاز تر لاسه کول دي.

۲_دسیال او دښمن هیوادونو محاصره کول:

د سړې جګړې په ترڅ کې د پنتاګون د پوځي اډو بنسټیزه موخه د شوروي اتحاد او د چین د ولسي جمهوریت محاصره کول وو، د پوځي اډو دغه دنده د چین په اړه لا تراوسه دوام لري، دغه رول او دنده په سویلي کوریا، جاپان، فلپین، استرالیا، پاکستان، د ډیګوګارسیا په ټاپو diego Garcia او په منځنۍ اسیا کې د شوروي اتحاد په پخوانیو جمهوریتونو کې د متحدو ایالتونو پوځي اډو ته ور په غاړه دي.

۳_د هوایي او سمندري جګړه ییزو بېړیو ملاتړ او د هغو غښتلتیا:

دغه دندې په تېره د جاپان په اوکیناوا Okinawa او توکیو ته څېرمه په یوکوسوکا yokosuka کې جوړې شوې اډې ترسره کوي، سربېره پر دې په فلیپین، تایلنډ، سنګاپور او نورو ډېرو هېوادونو کې هم دا ډول اډې د همدې موخې لپاره جوړې شوې، چې د متحدو ایالاتو د سمندري پوځ د بېړیو، د جګړه ییزو الوتکو لېږدوونکې، په ټومي وسلو سمبال او بتلونه، او داسې نورو پوځي بېړیو ملاتړ وکړي.

۴_د متحدو ایالاتونو د پوځي ځواک د پرسونل روزنه او تمرین:

د پوځیانو پر روزنې او تمرین سربېره له دغو اډو اخېستل کېږي، دا ډول اډې د جاپان په اوکیناوا okinawa فلیپین، سویلي کوریا، اسپانیې، ایټالیا، هندوراس hondurfas، المان ختیزه اروپا او کوېټ کې دي، ښایي په عراق کې هم د همدې موخې لپاره پوځي اډې جوړې شوې وي.

۵_د پوځي څارګرو لپاره د شونتیاوو برابرول:

د دغو پوځي اډو دندې، قومانده، کنټرول، د اړیکو ټینګول، په څارګرۍ چارواکي او اټومي جګړه کې د مهمو دندو د ترسره کول او همدارنګه له فضایي څارګرۍ څخه ګټه اخیستل او د جګړې لارښوونه ده، چې ښې بېلګې یې د افغانستان او عراق جګړې دي، دغه دندې د متحدو ایالتونو اډې په اوکیناوا okinawa، قطر او استرالیا کې ترسره کوي.

۶_د حکومتونو کنټرول:

متحده ایالتونه د خپلو پوځي اډو له لارې د پوځي اډو منونکي (کوربه) هیوادونه کنټرولوي، د تر کنټرول لاندې حکومتونو په لېست کې تر ټولو د مخه جاپان، کوریا، المان، سعودي عربستان، عراق او افغانستان شامل دي.

د جوزف د څرګندو له مخې دغو اهدافو ته په کتو سره افغانستان یوه د هغو سیمو څخه ګڼل کېږي، چې امریکایانو ته د خپلو جیوستراتېژیکو، جیواکنامیکو او همدا راز د تر لاسه شوې برترۍ د ساتنې په موخه ډېر اهمیت لرونکې ده.

د دیک چیني مخکې ذکر شوې څرګندونو څخه داسې پایله تر لاسه کېږي، چې متحدو ایالتونو د سړې جګړې په پړاو کې پوځي اډې د شوروي، اتحاد اغېز د مخنیوي په موخه جوړې کړې وي، خو اوسمهال واشنګټن هغه د خپلو جیوستراتیژیکو، جیواکانومیکو موخو او همدارنګه د تر لاسه شوې برترۍ د ساتنې لپاره جوړوي، نو ځکه پر هر هیواد له پوځي یرغل څخه وروسته، پنتاګون، سمدلاسه هلته د پوځي اډو جوړولو په لټه کې شي، ښې بېلګې یې د نورو ترڅنګ د عراق او افغانستان دولتونه دي.

خو پوښتنه دا ده، چې د افغانستان ملي ګټې د امریکا په دغه تصمیم کې څومره مطرح دي، .... خو که ګاونډیانو ته ګواښ وي، نو بیا دې ایران د وسلو کتارونه بند کړي او پاکستان دې هم له جېکب اباد څخه د امریکایانو اډه وشړي، ځکه چې پاکستان خو ځانته اټومي ځواک وایي دا چاره خو به یې له واکه پوره وي، اما که پاکستان د سند ایالت په جېکب اباد کې د امریکا اډه د پاکستان له ګټو سره متضاده نه بولي، نو په افغانستان کې هم ورته تعامل دی او باید ګاونډیان یې په اړه مخالفت ونه کړي.))

برخلیک اوه نیزه، یکشنبه د غویي اتلسمه ۱۳۹۰ هل کال

نور بیا

د نړیوالو مرستو په لګولو کې ...

به یې د څلوښت فیصدو پر ځای اتیا فیصده کمه کړې وه. جلیلي دا هم وایي، چې د بهرنیو مرستو مصرف د هغوی د شرطونو له کبله سخته دی. د ده په وینا د معارف او کلیوالي پراختیا پروګرامونو ته زیاتې پیسې ورکوي، خو نورو پروګرامونو لکه په هیواد کې د موجودو روغتونو د پراختیا یا د ظرفیتونو د لوړولو او هرات ښار ته د لوېې لارې پروژې ته پیسې نه ورکوي. ده بلله ستونزه دا وبلله، چې کله یو سړک په امنیتي دلایلو جوړ نه شي، د هغه لپاره ځانګړې شوې پیسې نورو سیمو ته نه شي انتقالېدای. د جلیلي په وینا لا هم له افغانستان سره د نړیوالو مرستو په درو کې دوې برخې د این جي او ګانو له لارې مصرفېږي. د امریکا د نړیوالې پراختیا اداري یا یو ایس اېډ په ۲۰۰۹ مالي کال کې شپاړس سوه ملیون ډالره لګولي دي.

رویداد دیروز تخار، تسلسل قتل ...

شد، در آن جاها مخالفان به گونه یی تردد و فعالیت داشته باشند که خطر جدی را متوجه دولت و مردم سازند که گزارش هایی از خشونت و ناامنی در ولایت سرپل، جوزجان، فاریاب و پروان که در این اواخر، روی صفحات رسانه ها بیشتر دیده می شود، شواهد روشن برای این مدعاست. رویداد دیروز تخار و حوادث ناامنی در دیگر ولایات شمالی کشور، نشان می دهد که مخالفان در همچو مناطق نیز، فعال و می توانند، نیروهای دولتی را غافلگیر و به چالش بکشند.

در همین حال، چنین به نظر می رسد که از مدت تقریبا یک سال به این سو، مخالفان مسلح در موارد بیشتر، مقام های بلندپایهٔ دولتی را هدف قرار داده اند. چنانکه طی دو ماه گذشته، در تسلسل قتل زنجیره یی، این چندمین مقام دولتی است که در نتیجهٔ عملیات مشابهی کشته می شوند.

ماه گذشته، جنرال عبدالرحمن سیدخیلی قوماندان امنیهٔ کندز، خان محمد مجاهد قوماندان امنیهٔ قندهار و قبل از آن عبدالله لغمانی معاون ریاست عمومی امنیت ملی و انجنیر عمر والی کندز، شکار همچو رویدادها گردیدند.

در بعد دیگر و دومی، این رویداد باز هم نمایانگر ناتوانی و ضعف نیروهای امنیتی است؛ نیروهای امنیتی یی که توقع می رود، طی چند روز آینده، مسوولیت تامین امنیت چندین منطقه کشور به آنها سپرده شود. طی یک ماه گذشته، این چندمین باری است که نیروهای مخالف در درون ساختمان های دولتی نفوذ کرده و موفق دستیابی به اهداف مطلوب شان شوند. داخل شدن عاملان انتحاری در ساختمان وزارت دفاع، در پایگاه نظامی در شرق کشور که باعث کشته و زخمی شدن، ده ها سرباز داخلی و خارجی گردید، انفجار انتحاری در درون شفاخانهٔ نظامی سردار محمد داوود خان همه، به وضوح نشان می دهد، مخالفان با هر تکتیکی که بوده، توانسته اند، در درون ساختمان های دولتی که از آنها به شدت پاسداری می شود، نفوذ نموده و به اهداف شان دست یابند.

یو هېواد او درې ډوله جګړه!!!

میوند

افغانستان هغه هېواد دی، چې د خپل تاریخ په اوږد کې یې ډېر لږ کلونه د جنګ او جګړو له اوره لرې تېر کړي دي. اساسي علت یې هم د افغانستان جیوپولیټکس موقعیت دی، چې هم یې د منطقې د هېوادونو او هم یې د نړۍ د هېوادونو نظر د ځان په خوا جلب کړی دی. موږ به وړاندې نه ځو، خو که یوازې د تېرو لسو کلونو راهیسې به په افغانستان کې د جګړې پر وضعیت رڼا واچوو، ویلی شو، چې په دې هېواد کې جګړه ورځ تر بلې سخته شوې او لا هم د سختوالي په خوا ځي. سره له دې چې په دې هېواد کې د بهرنیانو له خوا شروع شوې جګړه د سولې د راوستلو په موخه ده، خو په حقیقت کې دا جګړه د سولې نه بلکې د جنګ د راوستلو لپاره ده، ځکه سوله یې راوستلی نو په دې تېرو کلونو کې به اوس دا سوله راغلې وای، چې په نړۍ کې به یې ساری نه و. خو بالعکس په دې هېواد کې جنګ په هر لور لاړ او هر لور ته یې ډول ډول خاښونه وکړل. په همدې هکله څو ورځې وړاندې واشنګټن پوست ورځپاڼې د افغانستان د جګړې په هکله یو نوی راپور خپور کړ او په کې ویل شوي، چې په افغانستان کې حاضر دمه درې ډوله جګړه روانه ده، لومړۍ جګړه د القاعده او د نورو ورته ډلو پر وړاندې ده، دویمه د وسلوالو مخالفانو له حملو څخه د نوي تاسیس شوي حکومت ساتل دي او درېیمه جګړه هم چې زیاته نه احساس کېږي اما ډېره دردونکې ده، هغه په داخل کې ټولنیزه او فرهنګي جګړه ده. په دې مانا چې دا جګړه د هغو کسانو ترمنځ ده چې د افغانستان د عصري کولو پلویان دي او زیاتره په کابل کې اوسي او د هغوی چې د عصري کولو ضد دي او معمولا په کلیو او بانډو کې اوسي. واشنګټن پوست لیکي، په کونړ کې په تېره بیا د دې ولایت په پیچ دره کې د امریکا د ستراتیژۍ د محدودیتونو او امکاناتو په څرګندېدو سره ښکاره شوه، چې دغه درې واړه جګړې له یوبل سره تړلي دي.

دې ته په پام سره چې متحد ایالات د اسامه بن لادن تر وژلو وروسته د افغانستان لپاره په خپله ستراتیژۍ له سره غور کوي، په دې هېواد کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال ډېوید پیټرایوس د امریکا د استخباراتو د ادارې د مشر په توګه غوره شوی او د ولسمشر بارک اوباما له پلان سره سم هم له افغانستانه په را روان دوبي کې امریکایي ځواکونه په وتلو پیل کوي، د کونړ د پیچ دره د درېیمې جګړې یو ښه تصویر وړاندې کوي. کله چې امریکایي ځواکونه په ۲۰۰۶ م کال کې د پیچ درې، کورنګل او وایګل درو ته ننوتل، د امریکا د وسلوال بغاوت ضد ستراتیژي کاملا نوې وه او په جګړه کې یې د بدلون پیشبیني کوله. د دغې ستراتیژۍ له مخې پوځي قوماندانانو او مشاورینو په سیمه کې له څلوېښتو زیاتې اډې جوړې کړې، سړکونه یې ورغول، څو د دغو لرې پرتو سیمو اوسېدونکي له عصري مدنیت څخه ګټه پورته کړي، ځان امن احساس کړي او د چارو کنټرول د حکومت په لاس کې وي.

په ‌دی ترتیب د دغه پلان له مخې په سیمه کې د القاعده او نورو تروریستی ډلو فعالیتونه له ستونزو سره مخامخ شول. خو په دی وروستۍ میاشت کې امریکایي ځواکونو په پیچ دره کې هم خپله وروستۍ اډه تخلیه کوي. د واشنګټن پوست ورځپاڼې د دې مقالې لیکوال لیکي، د افغانستان په ختیځ کې د امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال جان کمپبیل چې د کارموده یې په ختمېدو ده او د ورسره یو وخت د مشاور په توګه کار کاوه، یو وخت د پیچ درې په اړه یوه عجیبه تبصره کړې وه. هغه ویلي وو، چې هغه ستراتیژي چې د عملي کېدو په ترخ کې یې یوازې په دې دره کې سل عسکر وژل کېږي او میلیارډونه ډالر لګېږي، ښه به داوي چې بله ستراتیژه غوره شي یانې دا سیمه په خپل حال پرېښودل شي. د واشنګټن پوست د مقالې لیکوال په پای کې دا نتیجه اخیستې چې په پیچ دره کې ناکامي په دې مانا نه ده چې د وسلوال بغاوت ضد ستراتیژۍ یوه ناکامه نظریه ده. اما حقیقت دادی چې دغه پالیسي هغه وخت ناکامه او له ستونزو سره مخامخ کېږي چې په لرې پرتو منزوي سیمو کې یې د تطبیق هڅه وشي چې خلک یې په خپله د دولتي سیستم حاکمیت نه غواړي. باید وویل شي، چې په حقیقت کې دا په خپله د امریکا د ناکامۍ او ماتې یوه برخه ده او ورو ورو به له ناکامۍ سره مخ کېږي. ځکه دوی ته د افغانستان جنګ او د افغانستان موقعیت په پوره توګه معلوم نه و، دوی یوازې د زور له مخې پر افغانستان حمله وکړه او د دې پر ځای چې هدف یې ترلاسه کړی وای، پاتې په کې راغلل او اوس د اسامه بن لادن له معمایي وژنې ورو ورو ځان ته د پښو سپکولو لپاره لارې ګوري او نړیوالو ته دا دلیل په لاس ورکوي، چې ګواکې امریکا القاعده وځپله او مشر یې ورته له منځه یوړ او په دې سره ځان ته د اوړو پوزه ړدي.

د نړیوالو مرستو په لګولو کې د افغان حکومت ستونزه

داسوشتید پریس خبري اژانس د یوه راپور له مخې د افغانستان حکومت ته دا سخته کار نه دی، چې د سړکونو، ښوونځیو، څاګانو او کلینکونو لپاره، چې خورا زیاته اړتیا ورته شته، له بهرنیانو پیسې ترلاسه کړي، خو مشکله دا ده، چې څرنګه یې مصرف کړي.

په تېرو پنځو کلونو کې د کلینیکونو، د څښاک داوبو او د کارموندنې په شان پروژو لپاره، د مرستندویو هیوادونو په سلګونو میلیون ډالره نه دي ادا شوي.

افغان چارواکي وایي، چې اکثره وخت پیسې په ډېرو ستونزو ترلاسه کوي، یا تر خپلې ټاکلې مودې ناوخته ورکول کېږي.

بیروکراسي یا ډېره کاغذبازي هم له بې کفایتۍ او اداري فساد سره یوځای شوې، چې دا هم خنډونه جوړوي.

د افغانستان په تېر مالي کال کې، چې د دلوې په وروستۍ نېټه پای ته ورسېد، حکومت ونه کړای شول، چې ۹۳۷ ملیون ډالره ولګوي، چې د دغه هیواد د ټولې انکشافي بودیجې څلوېښت فیصده کېږي.

حکومت په تېرو کلونو کې اکثره پیسې ترلاسه کړې وې او د هر کال بودیجه ترې بل کال ته پاته شوې ده.

د افغانستان د مالیې وزارت د بودیجې د څانګې رییس احمد جلیلي وایي، په روان مالي کال کې حکومت خپله انکشافي بودیجه په سلو کې څلوېښت کمه کړه. د تاند د خبر له مخې، احمد جلیلي وایي که د ده په خوښه کېدای، نو د وزارتونو انکشافي بودیجه

۳مخ

ACKU

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز
ماده نهم: ۲– دولت های عضو، تعهدات خویش را بنابر بند (۱) این ماده مبنی بر مساعدت های فضایی مقابل در بین خود عمل خواهند کرد.
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :– ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل " احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com